Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service

## د 1 جنوري 2020 نه دیخوا په فن لینډکي پناه اخسونکو له پاره د کار کولو حق سرټیفیکیټ فیسونو کي بدلون راغلي دي

په 1 جنوري 2020 د فن لینډ مهاجرت اداري له خواه د هر قسمه سرټیفیکیټ غوښتني له پاره فیسونه زیات کړي شو. کله چي تاسو د یو پناه غوښتونکي په توګه، د کار کولو له پاره د سرټیفیکیټ غوښتنه اوکړئ، نو ستاسو نه به 50 یورو اغستلي شي.

د فن لینډ د مهاجرت خدمات ورکولو اداري له خوا په درخواست د عمل کولو فیسونه د کورنو چارو وزارت ته ورکړي شوي یو عدالتي حکم لاندي راټولولي شي. په فیسونو کي راغلي بدلون د [نورو سرټیفیکیټو](#) له پاره ورکړي شوي درخواستونو باندي هم پلي کیږي.

که چري تاسو پناه غوښتونکي یا درخواست کوونکي ته کار ورکونکي یاست نو تاسو د کار کولو حق له پاره سرټیفیکیټ اغستلو درخواست کولي شئ. مهرباني اوکړئ او د سرټیفیکیټ غوښتني خپل درخواست سره رسید یا د فیس جمع کولو بل داسي ثبوت جمع کړئ د کومي نه چي ښکاریګي چي تاسو فیس جمع کړي دي.

لاندي ورکړي شوي څیزونه د رسید یا پیسو جمع کولو د ثبوت په توګه منلي شي:

- یو رسید کوم نه چي دا ښکاره کیږي چي فیس جمع کړي شوي دي.
- د کریډټ کارډ د بل هغه یوه برخه کومي کي چي دا ښکاره کیږي چي د اکاونټ نه د فیس په خاطر پیسي کټ شوي دي.
- بینک سټیټمینټ کوم چي دا ښائي چي د اکاونټ نه پیسي کټ شوي دي.

### د سرټیفیکیټ له پاره درخواست د فن لینډ د مهاجرت خدماتو ته جمع کړئ

که چري تاسو د پناه غوښتونکي په هیڅ داسي کار کوئ کوم په بدل کي چي تاسو ته پیسي ملاویږي، نو ستاسو سره به ښامخا د کار کولو د حق په اړه اجازت موجود وي. کله چي تاسو ته یو کار ملاؤ شي نو تاسو به هغه وخت ښامخا د دي خبري کتنه کوئ چي د کار کولو حق په اړه تاسو ته درکړي شوي سرټیفیکیټ تاریخ شروع شوي دي کنه او یا دا خبره چي ستاسو د کاروبار کولو حق سرټیفیکیت کي چري تاریخ ختم شوي نه وي.

که چري تاسو ته د کار کولو حق له پاره د سرټیفیکیټ ضرورت وي، نو زمونږ په ویب سائټ متعلقه فارم ډک کړئ.د سرټیفیکیټ له پاره درخواست ورکولو او هغي له پاره پیسو جمع کولو په حقله هدایات زمونږ په ویب سائټ [migri.fi/en/certificate-requests](https://migri.fi/en/certificate-requests) ورکړي شوي دي.

د سرټیفیکیټ اغستولو ټولو نه آسانه لار دا ده چې د فن لینډ مهاجرت خدمات ورکولو اداري ته اي میل اوکړئ یا په ډاک درخواست ورکړئ. که چرې تاسو په اي میل باندې درخواست نه شئ جمع کولی، نو تاسو د سرټیفیکیټ له پاره خپل درخواست د خدماتو ورکولو دفتر یعني سروس پوائنټ ته راوړې شئ.

په 2020 کې به لاندې ورکړې شوي زمونږ سروس پوائنټس د سرټیفیکیټ درخواستونه قبلوي:

- په هیلسینکي کې کائن کوجا سروس پوائنټ – د زیارت په ورځ د سحر 8 بجو نه تر مازیګر 4,15 بجو پورې (د 23 جنورې 2020 نه)
- نور سروس پوائنټونه – د خدماتو ورکولو ټولو ورځو باندې (په قطار کې ودریدو له پاره به نمبر اخلئ)

مونږ به د کارکولو حق له پاره ستاسو سرټیفیکیټ د فن لینډ مهاجرت خدماتو اداري سره جمع کړې شوي ستاسو په پته درلیګو یا د هغه مرکز په پته کوم ځائي چې تاسو د ټولو اول داخل شوي وئ. تاسو د سروس پوائنټ نه خپل سرټیفیکیټ نه شئ اغستلی.

## نور معلومات

- د پناه غوښتونکو د کار کولو حق: migri.fi/en/asylum-seeker-s-right-to-work
- د سرټیفیکیټ له پاره درخواست ورکولو په اړه هدایات: migri.fi/en/certificate-requests
- د فن لینډ مهاجرت خدمات ورکولو اداري فیسونه او د فیس جمع کولو په اړه معلومات:

migri.fi/en/processing-fees-and-payment-methods